**پوهاند دوکتورم.ا. زیار**
**اکسفورډ-۲۲سپتمبر ۲۲**

**یو ځغلند یونلیک بیاکتلې بڼه، خو دمرکز اېډنبرې عکس به**
**که مورږ هریو پیداکړ، له مورږ ټولو سره شریک کاندې ستاسې منندوی زیار**

**...خوست کې ګرمي ده ما چونې ته کړه مینه**
**او مورږ هم په باران پسې ګلاسګواوسکاټلېنډ ته ولاړو**

**د اګست تودوخې د خوست ننګرهار ، کندهار، پېښور سره دوبي را پر زړه کړل، داسې چې زمورږ اکا دېمیک ښارګوټي (اکسفورډ) او د پلازمېنې خواره واره ،څه له پاسه۱۵ملیوني لندن ښارپه ګډون یې ګرد سوېلي انګلېنډ ولایت راباندې سور اورکړ ...**
**داهم د ګراني پښتیانا لور، لورېینه وه چې ما او کشرۍ اوېستا په خپل ګاډي کې له ځان سره واخلي او۷ تر کار لاندې ستونزمنه نیمه نیمګورې ۷ساته "لویه لاره" راباندې له دوه دموسره اسانه کاندې او څه کم ٦میلیوني شمالي ترین سکاټلېنډ ولایت ته مو ولېږدوي:**
**لمړی یې هم دلویترین ګلاسګو (Glasgow) ښاریه سیمې هماغه کوشنوټې څه ناڅه یو -یونیم میل مربع روستاړې یا پیاړمې ته، چې په اړوند پوهنتون کې یې د ( اسرې) دربم سېمېستر پایته رسېدونکی وو. او په دوه درو ورځو کې یې د اوړي چوټې له مخې له ځان سره اکسفورډ ته راولو. په ترڅ کې یې هم له تلونکې ټولګیوالې سره له ګډ کرا کړې درې خونیز اپارتمانه ګټه واخلو او همماله مو دا پخپله د ګرځېدا راګرځېداالپاره لارښوده شي.**
**Glasgow له کلو بانډو سره پاو کم دوه ملیونو استوګنو سره د سکاټلېنډ لویترین ښار دی یا سیمه ده چې د کلاید سیند پرغاړه یې ټیکاو لرلی اوهمدغه سیند له اتلانتیک سمندر او همماله یې له شمالي سمندرګې(بحیرې) سره لنډ پر لنډه نښلولی؛ نو یوه ګڼ شمېر استوګن یې د اوسنۍ برېټانیا او ان دګردې اروپا پرکچ د بادي ښېرۍ چلونې او جوړو نې له لارې تر ټولو له مخه، ان ترفرانسې انقلاب(۱۷۸۹) هم یوه پېرۍ وړاندې پا نګوالي زېږتوګې(سرمایداري طرزتولي) ته لوړتیاموندلې، بې له دې چې (انقلاب) یې ونوموي او بیاپکې وینې توی شي. ځکه دغلته نویراټوکېدلې پا نګوالي له ساده باده مخځمکواکي- ټبریز (ماقبل فیوډالي- قبیلوي) رغښت(فورماسیونه) سر راپورته کړی وو. (؛ اکرداچې فرانسیانو د ځمکواکۍ (فیوډالېزم) دوه سوه**


کلن شاهي نظام د روستي استازي (پېنځلسم لويي) راپرځوني ته اړتيا درلوده ،که نه، برياليتوب يې شونی نه برېښېده. که هلته ستر فېلسوف او هومانېست ليکوال ژان ژاک روسو (Ruso) له خپل ټولنيز تړون (اجتماعي قرار داد) سره هغه پانګوالي انقلاب ته د دېمو کراتيکې او انساني لارې رَودې بنسټ ور پر ګوته کړی؛ پر وړاندې يې هرګوره د در ستې ګلاسګو بد لون هم د ورته کنوانسيون پر بنسټ ټيکاو موندلی وو-زمونږ نورستان بيا چې نن سبا ان له لمړني کميونه پانګوالي زېږتوګې -ژوندتوګې ته ملا تړلې،لا

ايړ ياله لېرد پېرې (عبوري) بېلګه کېدای شي!

## د ګلاسګو ښار(سيمې) په زړه پورې چکر

همداچې پر سبا يې د درست ګلاسګو ښار(سيمې) د چکر په تکل تر سرکاري زاړه ترين، (له سيندلاندې دوه پوړه ستېشن سره)ځمکلاندې اورګاډي ترهوايي ډګره او ورپسې ځانګړې ځمکباندې اورګاډي ترښار منځی (مرکزه) ورسولو، اسرې د هغه کنوانسيون د ګډو نوالو په لړ کې د يوې لوړې دنګې پړۍ يا تنديس (مجسمې) مخې ته پر تورخارا مرمر تورړل شوی (حکاکي شوې) اړوند متن ته ورځيرکړو او پر لوستنې سربېره يې په خپل ځيرک غږمل (موبايل) کې راکاپې هم کړ. منځټکی يې هم دا ستره وراشه راته په زړه پورې وا ېسېده: ((..زمونږ ځواکمنې د شتمنو او نشتمنو په يو موټيوالی کې نغښتی ده!))







**Edinburgh**

**(اېډنبره )د ګرد سکاټلېنډ ایالت منځی یاپلازمېنه**

**Edinburgh (اېډنبره) زموږ د درې ورځني یانه(سفر) روستۍ موخه وه، چې د درست سکاټلېنډ ولایت دویم لوی ښار اوهممهاله پلازمېنه ده. د کلو بانډو په ملتیایې د استو ګنو شمېره د ګلاسګو هغو شمېرې ته ور نژدې کېږي. بنسټیزه او لمړنۍ ودانۍ یې هغه لښکرکوټ یا بالا حصار دی چې په دولسمه پېړۍ کې د (درېم مالکولم) واکمن له خوا پر هسکه غونډۍ ودان شوی او ښار هم ترې راروسته ګرد چا پېره ورو ورو راټوکېد لی او له هما غه راهیسې یې پراختیا او پرمختیا موندلې ده. پر دغه تاریخي یاد ګار سربېره، د خیاباني نڅاوو، سندرو، ننداړمو (نمایشنامو) او نورو هنرونو او هنري جشنونو دغه ښار تر ګلاسګو راروسته ، هغه هم زیاتره د دوبي له پلوه د دویم ګرځند ویي (توریستي) ښارځانګړتیاراخپله کړې ده.**

* * *

**کېلټي یې د آرې ژبې په توګه**

**دګلاسګو او د سکاټلېنډ دویم ښار (اېډنبره) چې هممهاله یې پلازمېنه هم بلل کېږي، یوه ورته کېلټي ژبه ده چې پخپله یې ګایلیک (Gylic) بولي. هرګوره، له هغه راهیسې چې له انګلېنډ او بیا درستې بریټانیا شاهنشاهي واکمنۍ (Uk) سره خوښ ناخوښ یوځای شوي، د انګرېزۍ تر**

**گونډو لاندي را غلې، خو بیا یې هم د ګلاسګو غونډې په کلو بانډو کې لږ تر لږه ګړنۍ بڼه ډېره ژوندۍ ده او په ښارونو کې یې یوازې ځاینومونه او سر لیکي (سرلوحې) نیم نیمژوانده راپاتې دي. د برېتاني بل کېلتي آري ایا لت(چېلس) ژبه له دوتر دېوان پرته پوره لیکنی-ادبي کارونګ لري، ان مشاعره یې ما او مېرمنې د استاد مېکنزي کره له تلویزونه واورېده. همداسې بې د شمالي ایرلېنډ هغه درواخله،چې نیم ازاد دریځ یې را خپل کړی او هرګوره،د بشپړ خپلواک سوېلي آیرلېنډ جمهو ریت بشپړه رسمي ژبه ده!**

* * *

**د برېتش- امیریکن انګرېزي توپیر لامَل:**

**داچې ایرلېنډیان د امریکا له لمړنیو کډوالو، په نورو ټکو، نیواکګرو څخه بلل کېږي، نو پر کاتولیک مذهب سربېره یې د ایرلنډي ژبې داسې ځانګړتیاوې هم له ځان سره لېږدولې چې د برېتش انګرېزۍ پر وړاندې یې اُمریکنٌ هغه رامنځته کړې ده. په دغه لړ کې یې د خپلې اېر لنډۍ پوره اداکېدونکی ووری- تالوییزه رپنده-ر(r)، د پښتو ړپنده غبرګژبیز غږ (ړ) یو څه کلوله بلغږ (الو فون) ورته فونیم یې د دواړو ژب ځېلونو (وارینتونو) ترمنځ د مخامختیا (کونتراست) یو جوت (بر جسته) توپیر را ښیي؛ همداسې یې /t / د څپې یا ویې په منځ کې درواخله چې امریکا یي انګر یزي یې ګړ سره پر غبرګژبیزې هندي-پښتو ورته(-ټ-) اړوي، لکه (ټونټي) له(تونټي) وینګ سره او برېتش یې پر وړاندې له هند- پښتو وزمه (-ټ-) تون سره.ادا کوي؛ اکر داچې دغلته (r) په واژه (خوځنده) څپه کې زموږ د (ر) غونډې رپنده ویل کېږي او په ټرلې هغه کې مخنی خپلواک (واوېل) ته څومریز (کمي) بدلون وربښي او اړونده څپه ورسره هومره اوږدوي یا کشالوي: زوږ پر الف، لنډ-و(u) پر اوږد(o)،لنډه-ي(i) پر اوږده-ې(e) اړوي، چې سم له لاسه یې د زوږ-الف بېلګه وړاندې کوم،لکه:**

**Where aryou**

**?(ویاآ یو)**

**هرګوره، د غږپوهنې ځانګپوهانو او شاګردانو لپاره که ویې پوښتل، نورې بېلګې به یې هم پر فو نېتیکي ابېځې ورواړوم !**

**کېلتیان څوک دي؟**

**دا سمه ده چې اکسفورډ ډیکشنرۍ درېواړه کېلتي ټبرونه (سکاټلنډیان- اېرلنډیان- چلسیان) هندواروپایي ژبتوکمیزه ډله بللي، خو دا خبره یې له تاریخي ژبتوکمیز (اتنولنګوېستیکي) آرونو او وګړپوهنیزو او توکمپوهنیزو (انتروپولوژیکي او اېتنولوژ یکي) لاسو ندونو سره اړخ نه لګوي.**

چې ګونډې دوی د ژیړپېر (برونز مهالپېر) پای او د وسپنپېر(د وسپنې دورې) په پیل کې دغلته ځای پرځای شوي یا مېشتېدلي ، او وش و وده یې موندلې ده!
کېلتیان له آره د نوې ساینتېفیکې تاریخي ژېپوهنې، هغه هم د پښتو او درستو افغاني ژبو داستاد په نامه نومولي ناروېژي استاد(مورګنستیرن) د څېړنې پر بنسټ د لرغونې لووچې (اسیا) له آرګډ تا ټوبې (اناتولیا) یا اوسنۍ تورکي پلامېنې ٱنقرۍ څخه تر بلې هرې ژب-توکمیزې ډلې ټپلې وړاندې، هغه هم ډېری یې د اوسني انګلیستان شمال ته راکوچېدلي او یوه کو شنوټې ډله یې د المان خواته ، چې یوڅه پاتشوني یې دالمان فرایبورګ په سیمه کې لکه یهود او نور (نارین!) لږکي، د هېټلر له زندیو او زند انونو څنې لا ژوندي پاتې دي. او د سکاټلنډیانو په څېر یې خپله کېلتي(سېلتي) ژبه یوازې د خپلمنځې ګړنۍ او شعري ژبې په توګه تر اوسه ژوندۍ ساتلې ده!
داچې د نوي زیلاند د آکلنډ پوهنتون بیولوژېستانو اوژبپوهانو د نوي څېړندود (مېتو دولوژۍ) د څېړنو پر بنسټ د هندواروپایي ژبتوکمیزې (اتنولنګوېستي) کورنۍ ګڼشمېر ټبرونه له اسیایي (هندوارین) شاخه اروپایي لووچې څخه اروپاته دراتګ تاریخ تر ۹-۹ نیم زرو کلونو پر شا یوړ، نو د مخکښ کېلتي ټبر نېټه هم همدومره کلونه پرشاولاړه؛ خو نه د اکسفورډ ډېکشنرۍ په خبره تر دېرشزرکلن وسپنپېره !( زیار:پښتو او پښتانه ۴۷)
هرګوره،تر درې ورځنۍ یانه روسته مو د ګلاسګو کوشنوټي پوهنتوني ښارګي مېلمه پاله او زدکړیاله اسره جانه مو د یو میاشتنۍاوړي چوټۍ له مخې،لکه څنګه چې مو ارمان وو، له سړې باراني هوا سره اکسفورډ ته را وسته، او له همدې خوړې یادې(خاطرې) سره بیرته د څلورم سېمېستر په تکل د لندن کورنیو الوتنو له کوشني (لوتون) هوایي ډګره پر ټاکلې نېټه بیرته والوتله... که نه، د لندن نور۴-۳ لوی ډګرونه، ان د سکاټلېنډ تر پلازمېنې ایډنبرې پورې د ټولمنلې خدای بښلې ملکې (دویمې اېلیزابتې) دجنازې د لېږد له کبله تړلي ول!
د هغې اروابښادې ملکې اوزمونږ د ژوندۍ ګړندۍ اسرې یادُونه دې تلپاتې او تلتاند وي!
ستاسې د ټولو فرهګیالانو منندوی زیار

[د نمسۍ او نیکه غبرګې کالیزې]
د اسرې ۲۳ مې زورځې په درشل کې
کېمیا بوټي اسره
څو به پلټې په کېمیا بوټي پسې

غرونه رغونه یو مخ

د اسمانڅک کوکاس

دهسکو هسکو کږلېچو،

اېرمباغچو

پرښاپېريو باندې،

د هاخيالي خوتن...

۱ د مشکو بوټو وړيځانو

ښکلو بدريو. باندې

ماتوې دها تروښلو يرغملو سوېليانو مينه ...

*   *   *

نه نه،د غرج غورو کسې،

د لوی سکندر ارغسانی ، اراکوزی،

بخديانی ((روښانې))

د ښايستونو

اسطوريانو مينه!!؟ه

۱۲پرېل۲۴

*   *   *

اوزما۸۷يمه زوږځ

جې پسرلې وخندل

زه پر ژړاشومه سر...

هله مې ژوند وزېږېد!

۵ اپرېل۲۴